دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای مؤمنانو! د الله او د رسول منه وکړئ او وروسته له هغه چې حکم یې واورئ مخ ترې مه اړوئ. او دهغه چا په څیر مه کېږئ چې په خوله یې ویلې موږ واورېده خو د حقیقت له مخې یې نه اوري. (الانفال: ۱۹ - ۲۱ آیتونه)

درس حدیث

له جبیر بن مطعم رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې عصبیت (د قومي ربښې کرکې ته) بلنه ورکړه هغه له موږ څخه نه دی، څوک چې د عصبیت لپاره وجنګېد هغه له موږ نه، نه دی او څوک چې په عصبیت کې مړ شو هغه له موږ نه، نه دی. (ابو داود)

شهادت   درېیم کال، ۳۰ مه ګڼه، پرله پسې ۱۳۰ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د تله ۲۷ مه   د۱۴۳۲ هـ ق د ذوالقعده ۲۲ مه   د۲۰۱۱ م د اکتوبر ۱۹ مه

په ځینو وکیلانو او قوماندانانو پورې تړلیو وسلوالو د ننګرهار امنیت خراب کړی

کابل، پژواک:

په ملي شورا کې د ننګرهار یو شمېر استازي وایي، چې د دغه ولایت پر ځینو وکیلانو او پخوانیو جهادي قوماندانانو پورې تړلي یو شمېر غیر مسوولې وسلوالې ډلې په ناامنیو او اداري فساد کې لاس لري.

د مشرانو جرګې مشر او د ننګرهار استازي فضل هادي مسلمیار (د تلې په ۲۶مه) د دې جرګې په عمومي غونډه کې وویل، د ننګرهار خلکو ورته ویلي، چې په دغه ولایت کې یو شمېر غیر مسوولې وسلوالې ډلې پیدا شوې، چې په نا امنیو، د ځمکو په غصب، د خلکو په وژنه او خورونه کې لاس لري.

د مسلمیار د معلوماتو له مخې، دغه نامسوولې وسلوالې ډلې د ملي شورا پر یو شمېر غړو پورې اړه لري.

دی وایي، چې د یادو نامسوولو وسلوالو د فعالیتونو د مخنیوي په اړه یې د ننګرهار له سیمه ییزو چارواکو سره خبرې کړې دي.

خو ده ونه ویل، چې دغه وسلوالې ډلې د ملي شورا د کومو غړو اړوند دي او د ننګرهار چارواکو یې په اړه څه ویلي دي.

په مشرانو جرګه کې د ننګرهار استازی لطف الله بابا هم په نوموړي ولایت کې د غیر مسوولو وسلوالو ډلو د شتون پخلی کوي.

دی وایي، چې دغه غیر مسوول وسلوال د ننګرهار په دولتي ادارو او په

ځانګړي ډول د ګمرک په اداري فساد او ځینو نورو نا امنیو کې لاس لري.

د ده په وینا، یادې ډلې د پیسو په بدل کې د ځینو سوداګرو توکي په لږ محصول له ګمرک څخه تېروي.

پاتې ۴ مخ

امریکا تجهیزات نظامی جدید را در اختیار وزارت دفاع افغانستان قرار داده است

کابل، رسنی:

وزارت دفاع افغانستان می گوید که ایالات متحده امریکا تجهیزات جدید نظامی را در اختیار این وزارت قرار داده است.

نمونهء های از سلاح ها، تانک ها، هلیکوپترها و سایر تجهیزات نظامی که وزارت دفاع افغانستان از ایالات متحده دریافت کرده است به روز سه شنبه به خبرنگاران در مقر این وزارت نشان داده شد.

با آن که وزارت دفاع افغانستان کمک های نظامی جدید ایالات متحده را به اردوی ملی افغانستان مهم توصیف می کند، اما این سلاح و تجهیزات را برای یک جنگ منظم کافی نمی داند.

جنرال عبدالرحیم وردک وزیر دفاع افغانستان به روز سه شنبه پیش از آنکه نمونه های از اسلحه، هلیکوپترها و سایر تجهیزات نظامی را که اخیراً از سوی امریکا به افغانستان مساعدت شده به خبرنگاران در

بقیه در صفحه ۴

آیساف بخاطر تامین ثبات دایمی در افغانستان، با پاکستان همکاری می کند

PROPERTY OF ACKU

کابل، رسانه ها:

آیساف می گوید: در همکاری با اردوی پاکستان در تلاش رسیدن به اهداف مشترک در منطقه می باشد.

سخنگوی نیروهای ایتلاف در افغانستان می گوید: در همراهی با پاکستان برای رسیدن به اهداف مشترک تلاش می ورزند.

دگرمن جیمز کمینگز سخنگوی آیساف، این بیانات را در جواب به این شکایت پاکستان ابراز داشته که گفته است، حکومت افغانستان و نیروهای بین المللی مستقر در آن کشور، اقدامات لازم را بر ضد طالبان به رهبری ملا فضل الله در پاکستان اتخاذ نکرده است.

به گفته کمینگز، آنها با پاکستان همکاری می کنند تا ثبات دایمی در افغانستان تامین گردد وبه اهداف مشترک درمنطقه رسیدگی شود.

بقیه در صفحه ۴

افغانان به تر څو د ظلم او بربریت په بټۍ کې سوځېږي!؟

درېیم مخ

اتحادیهء اروپا برای تقویت پولیس افغان ۱۵ ملیون یورو را به مصرف می رساند

کابل، رسانه ها:

اتحادیه اروپا به هدف تقویت پولیس افغان ۱۵ میلیون یورو را به مصرف می رساند.

در نشست خبری که به روز سه شنبه در کابل راه اندازی شده بود، اتحادیه اروپا با سازمان بین المللی مهاجرت (آی او ام) قرارداد این مقدار پول را به امضا رسانید.

قرار است برنامهء تقویت نیروهای پولیس و ارتقای ظرفیت های آنان از سوی سازمان بین المللی مهاجرت (آی او ام) در ولایت های کابل و بامیان عملی گردد.

در نشست خبری که به روز سه شنبه در کابل راه اندازی شده بود، سفیر اتحادیه اروپا در افغانستان گفت: این برنامه به مصرف ۱۵ ملیون یورو سه هدف را دنبال می کند:

" اول اعمار یک کالج در کابل به مصرف ۹ ملیون یورو، دوم اعمار یک مرکز آموزشی در ولایت بامیان به ارزش ۴ ملیون یورو که در این مرکز زنان و مردان به طور جداگانه آموزش خواهند دید و این اولین مرکزی آموزشی منظم در افغانستان خواهد بود که در آن زنان آموزش می بینند و بخش سوم این برنامه شامل ارتقای ظرفیت ها می شود. "

به گفتهء مقام های اتحادیه اروپا، ۲ ملیون یورو دیگر در بخش ارتقای ظرفیت های پولیس به مصرف خواهد رسید.

از سوی هم وزارت امور داخلهء افغانستان ساختن مراکز آموزشی در ولایت های کابل و بامیان را برای مسلکی شدن پولیس افغان با اهمیت می خواند.

معین اداری این وزارت می گوید: قرار است کار ساخت این مراکز آموزشی در ۱۸ ماه به پایان برسد.

میرزا محمد یارمند می گوید: برای آموزش افراد پولیس در این مراکز از متخصصان خارجی نیز استفاده صورت می گیرد.

بقیه در صفحه ۴

دپاکستان له پوځي اډو پر امریکایي پوځیانو تر سلو زیاتې حملې شوي

امریکا، رسنۍ:

د امریکا دفاع وزارت یا پینټاګون ویلي چې د پاکستان له خاورې په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ پر نړیوالو ځواکونو حملې زیاتې شوې دي.

د فرانس پریس اژانس د راپور له مخې د سپینې ماڼۍ ویندوی جارج لیټل د پاکستان له لوري د افغانستان پر خاورې د توغندویي حملو د زیاتېدو په اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: "دا ډول بریدونه د پاکستان په خاوره کې د مې په دوهمه د امریکایي کوماندو ځواکونو له حملې وروسته، چې په نتیجه کې یې اسامه بن لادن ووژل شو، زیاتې شوي دي."

ده وویل د سږکال د جون او اګست د میاشتو ترمنځ د پاکستان له خوا حملې لا شدیدې شوې.

د پاکستان له خوا په افغانستان کې نه یوازې د امریکایي پوځیانو پر مرکزونو بریدونه زیات شوي بلکې د افغانستان د ختیځو ولایتونو پر عامو خلکو هم راکټي بریدونه کېږي.

پاتې ۴ مخ

شنونکي:

د ګاونډیانو د بریدونو په اړه د ولسمشر څرګندونې د دولت سیاسي بې ثباتي ښیي

کابل، پژواک:

د سیاسي چارو یو شمېر پوهان د پاکستان او ایران له لوري د هېواد پر ختیځ او لوېدیځ د راکټي بریدونو په اړه د ولسمشر حامد کرزي وروستۍ څرګندونې د افغان دولت د سیاسي دریځ د عدم ثبات له امله بولي.

ولسمشر حامد کرزي پرون د جرمني له ولسمشر کرستیان وولف سره په ګډه خبري غونډه کې وویل، چې له پاکستان څخه پر افغان خاورې توغندیز بریدونه تر ډېره د رسنیو مبالغه ده؛ که داسې څه تثبیت شي او د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا له ګواښ سره مخ شي، نو افغان حکومت به یې په اړه لازم ګام پورته کړي.

ولسمشر له رسنیو وغوښتل، چې په ډېر دقت سره ګام واخلي او له احساساتو او شایعاتو دې ډډه وکړي.

کرزي زیاته کړه: "موږ باید داسې کار ونه کړو، چې د ناتایید شویو راپورونو او د رسنیو د خبرونو پر بنسټ له ګاونډیانو سره اړیکې خرابې کړو."

پاتې ۴ مخ

داکتر محمد انور

نه آقای داناروړا باکر!

نای خاموشم بدست طفل بازی گوش دهر
گه به جیب او گهی در کوچه ها افتاده ام

زمانی حکومت داکتر نجیب الله به اثر اختلافات میان ملیشه های قومی ساختهٔ دست خودش و ارتش شوروی وقت به سقوط مواجه گردید و تنظیم های جهادی با طوفانی از مخالفت های داخلی غریده بر همدیگر با نظامی بی ثبات تر از کشتی کاغذی وارد کشور شدند. دست غرض آلود و نیات ناپاک در طراحی این نظام تا آخر وظیفه خود را برای به جان هم انداختن آنها بیکار نه نشست عدهٔ مغرض با الهام از دشمنان در کمین نشسته در بیرون تحرکاتی را برای جانشین ساختن فروختگانی در غرب براه انداختند که از زمزمه ای بنام تشکیل اردوی ملی در (کارخانوی) پشاور به جلب و جذب افراد براه افتید. که بعداً جنبش طالبان را شکل متامورفوز شده آن می توان شمرد.

همه تلاش برای رفع اختلافات در میان تنظیم های جهاد بشکل مرموزی خنثی می گردید که در این عملیه نقش مهره های خطرناک در داخل و در ماحول سران این سازمان ها و احزاب و شخصیت های سیکولر در کشورهای همسایه برازندگی خاص داشت، خاصتاً افرادی در داخل حزب مردم پاکستان و مؤتلفین شان به این آتش مواد سوخت می افزود.

(بقیه در صفحه دوم)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

جنرال الن!
افغانان د جګړې سملاسي نتیجه غواړي

وال ستریټ ژورنال د امریکایي پوځیانو نوی عمومي قوماندان جنرال الن په حواله لیکي چې د امریکا په مشرۍ نړیوال ائتلافي ځواکونه په دې غور کوي چې د افغانستان په ختیځ کې څو کنډکه پوځیان ځای پر ځای کړي څو د کابل او پاکستان د پولې ترمنځ یو دفاعي دیوال جوړ، او کابل ته د دښمن د ننوتو مخه ونیول شي.

اصلاً امریکا او ناټو ځواکونه افغانستان ته په دې بهانه راغلي وو چې دلته د یولسم سپتمبر د پېښې عاملین (القاعده) له منځه یوسي خو هغوی ددې پر ځای چې له القاعدې سره پنجې نرمې کړي وای او خپل حساب او کتاب ورسره خلاص کړي وای ټول توان یې د افغانستان د نیولو او د خپلې خوښې د نظام پر نافذولو مرکوز کړ هڅه یې وکړه چې افغانان د غربیانو په رنګ کې رنګ او په هر څه کې خپل تابع وګرځوي. یکار خو دا و چې امریکا او ناټو غړو هېوادو له داسې کړنو څخه په کلکه ډډه کړې وای او یوازې هغه هدف یې پرمخ وړی وای چې د کوم هدف د ترلاسه کولو لپاره یې پر افغانستان پوځي یرغل کړی و خو متأسفانه چې داسې یې ونکړه او د افغانستان په ټولو معنوي او مادي ارزښتونو پښې کېښودلې.

کېدې شي هغوی به د طالبانو د حکومت او دلته میشته د القاعدې د غړو له ماتې وروسته دا انګیرلې وي چې نور نو لوبه پای ته ورسېده، د سرو او سپینو مالکان همدوی شول، لدې وروسته به داسې څوک پیدا نه شي چې دهغوی په خلاف ساه قدرې واخلي، نو ځکه په سترو سترو غلطیو لاس پورې کړ، ددې پر ځای چې افغانان خپلې خوښې ته پرېږدي او د خپلې خوښې حکومت او نظام جوړ کړي خپل لادینې غربي دیموکراسی نظام یې وربانديې مسلط کړ چې د افغانانو زیاترو وګړو ته د منلو نه وه، نو ځکه ډېرو افغانانو ته دا یقین پیدا شو چې القاعده هسې یوه بهانه ده، امریکا اصلاً د افغانستان د اشغال لپاره راغلې ده چې له دې لارې په منځنۍ آسیا کې خپل اهداف ترلاسه کړي او افغانستان د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره د یوې وسیلې په توګه وکاروي، په ځانګړې ډول د افغانانو دا شک هله په یقین بدل شو چې امریکا او ناټو ځواکونو د القاعدې د غړو په خلاف جنګ له خپلې اندازې نه زیات اوږد او بې نتیجې پرېښود.

د امریکا دغه پالیسي ددې باعث وګرځید چې افغانان امریکا ته د شک په ستر ګو وګوري او داسې فکر وکړي چې بهرني ځواکونه دا جګړه قصداً اوږده وي.

همدا لامل دې چې د ګوتو په شمار له څو محدودو افغانانو پرته ټول افغانان په افغانستان کې له روانې جګړې سره نه یوائې دا چې هېڅ ډول دلچسپي نه لري بلکې سراسر د خپل هېواد، ولس او استقلال په خلاف یې بولي.

که بهرني ځواکونه پخپل ګریوان کې سرښکته کړي نو دا به ضرور ومني چې افغانان په دې کار کې په سلو کې سل په حقه دي ځکه چې افغانانو په تېره لس کلنه جګړه کې له ځاني، مالي، معنوي او مادي تاوانونو پرته بله هېڅ ګټه نه ده ترلاسه کړې.

په یو هېواد کې دیرش کاله اوږده جګړه چې د پای هېڅ څرک یې هم نه لیدل کېږي واقعاً پر وګړو یې منفي اغیزه کوي، هغوی ته رواني او روحي تکلیفونه پیدا کوي، له یو ډول مایوسي او ناځرګند سرنوشت سره اخته کوي لکه چې افغانان ورسره لاس او ګریوان دي.

که امریکا یې قوماندان خپل عسکر د پاکستان او افغانستان په ګډو پولو کې اچوي او یا هم ایراني پولو او نورو ځایونو کې دا د هغوی پوځي تاکتیک او ضرورت دی، خو پدې واقعیت دې ځان پوه کړي چې افغانان نور له دې جګړې تر پوزې راغلي او سملاسي خلاصون ترینه غواړي، نور د جګړې اوږدېدل او بې ګناه افغانانو وژل نه شي زغملي. که امریکا او ایساف ځواکونه دا جګړه واقعاً ګټلی شي نو بیا دې هسې بې ځای نه اوږد وي او که نه شي ګټلې لکه څنګه چې تر اوسه یې نه ده ګټلې نو بیا دې تر په پرنه پټوي، د جګړې سنګرونه دې پرېږدي او ژر تر ژره دې له افغانستانه د وتلو مهال ویش وټاکي، تر څو افغانان وتوانېږي پخپلو کې د روغې جوړې او سولې له لارې خپلو ظروفو او شرایطو مطابق خپل سرنوشت پخپله وټاکي.

نه آقای دانارورا باکر!

(ادامه ءاز صفحه اول)

سران تنظیم های جهادی که از داشتن برنامه منظم مقابله با توطئه های داخلی و خارجی محروم بودند بالاخره در برابر سیلی از سازشهای نظامی سیاسی عرب با دستیاری احزاب سیکولر پاکستان در برابر هجوم لشکر طالبان صحنه را ترک گفته در خارج از کابل منتظر آن ماندند که سازش های بین المللی چه سهمی را نصیب آنها می سازد، پس از پایان یافتن جنگ داخلی در میان سازمانهای جهادی که برای عدهٔ مترصد در کمین گاه های غرب غیر منتظره بود با سقوط کابل پنج سال حاکمیت طالبان در حالیکه باز هم این ملت را خانه به خانه جنگانید، در فضای اختناق سیطره طالبان هر آنکه چیزی می دانست مجبور به ترک وطن گردید. و در کوچه های پشاور و جاده های اسلام آباد و فلکه های مشهد و تهران و ... در آوارگی بسر بردند.

آنهائی که برای آمدن طالبان سالها زمینه سازی نموده بودند و برای پیروزی شان جشن ها برپا نمودند و در پیشا پیش طالبان عدهٔ از آنها در سفارتخانه های غربی مقیم اسلام آباد ترجمانی و پیش کارگی می نمودند با اصرار و پافشاری طالبان بر دوام حکومت خود شان این عالی جنابان از کرده پشیمان و با مأیوسی یا رهسپار غرب شدند و یا آنکه به انتظار فرصتی دیگر در قصرهای مجلل اسلام آباد با کسب مستمری از باداران شان خاموشی اختیار نمودند. تا آنکه توطئه به پختگی رسید و فاجعه یازدهم سپتمبر ۲۰۰۱ راه را برای هجوم بر این کشور مظلوم، محروم و آسیب دیده و ویرانه باز نمود. این آقایون در بالهای طیارات B52 برای انتقام از طالبان که پنج سال میان آنها و قدرت حایل بودند بر مردم ما آتش ریختند و تا کنون که دلالی رسانیدن همه امکانات لوژستیکی و اکمالاتی قوای خارجی در انحصار اوشان است رهبر آنها! وزیر آنها! وکیل آنها! جنرال و سردمدار آنها! اند اکنون برای دوام و بقای امتیازات شان هر روز توطئه نوی می چینند و با ملیاردها دالر امریکایی و یوروی اروپایی و پوند استرلنگ بریطانوی که در کشور ما سرازیر می شود. افغان مظلوم، محروم، بیچاره و فلاکت زده با روزگار برگشته پس از خوردن شلاق و چماق در بازار بورد و قصه خوانی پشاور میوه، سبزی و ترکاری می فروشد. پولیس ایالت خیبر پشتونخواه و پنجاب و بلوچستان با تحقیر و اهانت با داشتن مهاجر کارت و حتی پاسپورت، جیب های او را تخلیه و گاهی هم راهی تهانه پولیس و زندانش می کند.

زمانی هم قاچاق بر او را در فاصله میان سرحدات دشت های خشک و بی آب شکار هلیکوپترهای پاسداران مرزی و سپاه پاسداران ج.ا. ایران می سازد، رعیتی بی سرنوشت با پیدا شدن اختلاف با انسان ربایان مرزهای ایران به جیب او چیزی بنام تریاک و مواد مخدره جا زده شده، عدالت جمهوری اسلامی ایران این موجود بی سرنوشت را که نه کشوری دارد نه کشوردار و زعامتی مسؤل که از احوال او بپرسد به جوغه دار می آویزد و جسدش را چون جیفه ای به بیابانی در سرحدات بی مرزبان کشور زیر خاک می کند. زهی اسلامی و زهی همسایگی و علایق تاریخی و برادری.

در حالیکه پنجاه کشور و یا بیشتر بنام آوردن امنیت و سرکوبی تروریزم شبانه روز افراد معصوم و بی گناه زن، مرد و کودک را پامال جور و جفا می کند. باز هم افغان بیچاره و حیرت زده بنام مواجهه با خطر حیاتی در حالیکه رهسپار اروپا و امریکا است گاهی در سرحدات میان ترکیه و ایران زندانی و زمانی در سرحدات میان ترکیه و یونان و ایتالیا غرق می شود و روزی هم میان اندونیزیا و استرالیا و نیوزیلاند با تن تنها خوراک نهنگان می شود و یا با اهل و عیال دنیا از نسل آشفته و آواره او در امان می شود و خود با زن و کودک که تن به تقدیر داده و گاهی هم سوار قایق های تفریحی خود را از تفتیش دریائی مصؤن می سازد آنها از راه دور کشتی مجهول ؟؟ بر او شلیک کرده این ملت محکوم به فنا را به سرنوشت ابدی اش سوق می کند و راه او را در رسیدن به بهشت موعود اروپا، امریکا و استرالیا سد مینماید.

در حالیکه توطئه گران روزگار تلخی را بر مردم ما تحمیل نموده اند که جز حدس و گمان هیچکس بصورت جزم نمی داند اینها در نهایت برای این سرزمین چه بر سر می پرورانند. زمانی هم سفیر سابقه امریکا در هند طرح تجزیه افغانستان را پیش می کند گوئی اینجا نه مردمی است و نه زنده جانی بنام انسان با اراده و حق تصمیم برای زندگی وجود دارد. مردمی که در اینجا نفس می کشند در برابر نظامی که با تزویر و تقلب بر آنها تحمیل گردیده جبراً ساکت بمانند که آقای سفیر سابقه واشنگتن در هند کشور شانرا تجزیه نماید، و یا آنکه آقای دانارورباکر سرزمین شانرا که قرنها برای حفظ آن خون داده اند، در نظام فدرالی ملیشه های قومی تقسیم نماید تا قوای خارجی آنرا زیر چکمه های ظالمانه ملیشه های قومی گذاشته، درامه حقوق بشر و دموکراسی و ... را ناتمام گذاشته و راه فرار در پیش گیرند.

آغای دانارورباکر از سالهاست که در رابطه با افغانستان دلچسپی دارند و در حدود معلومات شان تلاش هائی داشته اند اینکه این معلومات ها از کدام چینل به اوشان رسیده است. ما آنچه را که در مخالفت با یک افغانستان واحد و متحد اظهار می دارند و یا طرح می سپارند به ضعف همین قنوات معلوماتی و با نبود حسن نیت شان حمل می نمائیم.

می پذیریم که تائید و حمایه امریکا از یک نظام مرکزی ایکه فساد سرتاسری چون موریانه بدنه آنرا فراگرفته و اگر حضور نیروهای خارجی و حمایه بی دریغ شان نظام و سراسیمگی این ملت طی سی و سه سال جنگ طاقت فرسا در برابر قوای متجاوز شوروی، جنگ داخلی، مداخلات همسایگان راه را از آنها گم نمی کرد بجای آنکه در سرحدات ایران، پاکستان، ترکیه، یونان و ایتالیا بدام مافیای آدم ربائی و یا پولیس افتند، غرق شوند و یا زندانهای غیر موجه را درین کشورها سپری نمایند و یا به جوغه دار آویخته شوند چون آزادگان مصر، تونس، لیبیا، سوریه و یمن و سایر کشورهای شرق میانه و شمال افریقا به جادهٔ می ریختند و خود را انحصار مافیای اداری، اقتصادی، زمین، مواد مخدر و آدم ربائی و ... نجات می دادند.

با تأسف نمونه ایرا که جامعه جهانی پس از کنفرانس بن بر ملت ما از یک نظام مرکزی تحمیل نموده است در همه جهان مثال ندارد.

نظام مرکزی ایکه در طی ده سال در میان آقای رئیس جمهور، شرکا، رفقا، دوستان فامیلی و ... در جریان است و آقای باکر آنرا ناکام خوانده است. از همان اول شناخته شده بود که به کجا می انجامد.

ملیشه های قومی ایکه آقای باکر در نظر دارد تجربه ناکامی است که اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی قبل از خروج از افغانستان عملی نموده بودند.

طبعی است که انسانهائی که در برابر وطن و تاریخ کشور، دین و معتقدات ما احساس مسؤولیت داشته باشند در همچو ساختارها شرکت نمی نمایند. این ملیشه ها چنانکه تجربه نشان داده لانه ای می شود برای افراد فرصت طلب، منفعت جو و ناقضین حقوق بشر که برای مدعیان دیموکراسی و حقوق بشر مناسب نیست مقدرات یک منطقه را بازیچه دست همچو قماش ها بنمایند. و یکی از عوامل سستی در بنیاد نظام موجوده در کشور ما هم با تأسف استمداد قوای ائتلاف از همین نوع ملیشه ها بود که آنها را اکنون جزء لاینفک نظام ساخته است. لاینفک طوریکه بزرگترین مدعیان آگاهی در سیاست جز آنکه به نحوه ای در اعتبار و نفوذ شان تغییری آورده باشند راهی بغیر از سازش با آنها را در پیش نگرفته اند در حالیکه سرگروپ کوچک با تشخیص نقض حقوق بشر به بیست سال حبس محکوم می شود. آمر، قوماندان و پیشوای آن به مقامات بزرگ دولتی نایل گردیده امتیاز حزب سیاسی را حاصل مینمایند.

دست های اجنبی ایکه در کنار طالبان سیاست سرکوب و انحصار طلبی را در کشور ما اعمال نمود از هیچکس پوشیده نیست. ولی هر گاه نظام موجوده به راهی که روان است ادامه دهد مردم تشنه امنیت و شفافیت افغانستان به ناچاری در کنار همان انحصار طلبان آرامی را جستجو خواهند کرد تا پامال ملیشه هائی نه شوند که باید ادارات نگهبان و مراقب حقوق بشر صدها دوسیه از نظایر آنها را درج نموده ولی مصلحت نظام آقای کرزئی در خاموش نگهداشتن آنست.

پیشنهاداتی که آقای دانارورباکر برای بهبود اوضاع در کشور ما مینمایند. قدمه های است که باید آقای اخضر ابراهیمی، آقای کرزی و نظام متعهد به وحدت و تمامیت و استقلال افغانستان در کنار شان در این ده سال می برداشتند. اکنون هر قدمی که گذاشته می شود بجای آنکه به بی کفایتی نظام و ناهلی مسؤولین آن نسبت داده شود به غیر مؤثر بودن نظام مرکزی در افغانستان تعبیر می گردد.

مناسب نیست جامعه جهانی ده سال دیگر در این لابراتوار نظام فدرالی و ملیشه های محلی و قومی را تجربه نماید و پس از باختن و از دست دادن هنگفتی دیگر از سرمایه های مادی و معنوی آنرا ناکام بخواند، و کشور ما بازیچه تجربه های ناکام جامعه جهانی شود.

افغانان به تر څو د ظلم او بربريت په بټۍ کې سوځېږي!؟

محمد خليل

څو ورځې وړاندې ګارډين ورځپاڼې پخپل يو رپوټ کې ويلي وو چې د ناټو ځواکونو د شپې په عملياتو کې هره شپه ۸ ملکي وګړي وژل کېږي، ورځپاڼه زياتوي که څه هم د طالبانو د ښکيلو مشرانو د له منځه وړو لپاره دقيقې وسلې کارول کېږي خو بيا هم دهغوی د هر مشر د وژلو په عملياتو کې اته بې ګناه وګړي وژل کېږي، د ګارډين په وينا د شپې په عملياتو کې ملکي مرګ ژوبله زياته شوې نو ځکه له بهرنيو ځواکونو سره د افغانانو خواخوږي مخ په کمېدو دی.

په دې کې هيڅ شک نشته چې امريکايي او ناټو ځواکونو د شپې عمليات پر بې ګناه افغانانو د ظلم او بربريت يو بل آسماني تندر دی چې پر بې ګناه افغانانو غورځول کېږي د ولسمشر کرزي په شمول د پارلمان او مشرانو جرګې غړو څو څو ځله له امريکايي او ناټو ځواکونو څخه په کلکه غوښتنه کړې چې د شپې له عملياتو څخه دې لاس په سر شي او د بې ګناه افغانانو له ژوند سره دې لوبې نه کوي خو هغوی ددې پر ځای چې له خپلې دغې ناوړې کړنې څخه لاس واخلي درګرده لګيا دي هره شپه ناوخته د بې ګناه خلکو پر کورونو عمليات کوي او په خواږه خوب ويده کسان وژني او يا يې هم له ځانه سره وړي.

دا دی يو ځل بيا بهرنيو ځواکونو د ميدان وردګ ولايت په چک ولسوالۍ کې د مشرانو جرګې د تېرې دورې د غړي سميع جان شيرزاد د کورنۍ درې غړي وژلي او دوه تنه يې له ځانه سره بيولي دي. دغه پېښه د چک ولسوالۍ د ګردن مسجد درې د ممدو په کلي کې درې شپې وړاندې شاوخوا دولس بجې رامنځته شوې، په وژل شوو کسانو کې د سميع جان شيرزاد، وراره نورآغا او دهغه دوه پيغلې لوڼې شاملې دي.

ددې کلي اوسېدونکی حيات الله حليم رسنيو ته ويلي دي چې د نورآغا وژل شوې يوه لور شل او بله اتلس کلنه وه او دواړه په ياد کلي کې دنجونو په ښوونځي کې د ښوونکو دنده ترسره کوله، پخپله نورآغا هم دحضرت بلال په ليسه کې استاذ و.

د حيات الله په وينا د سميع جان دوه وريرونه يې هم له ځانه سره وړي دي.

دا لومړی پېښه نه ده چې د ناټو ځواکونو له خوا ترسره شوې بلکې ددې په څېر په سلګونو نورې پېښې يې هم ترسره کړي چې د زرګونو بې ګناه وګړو ژوند ځراغ يې ګل کړی دی.

ډېر ليرې به نه ځو د وردګو ولايت د چک ولسوالۍ پر پېښه به يو نظر واچوو او وبه ګورو چې امريکايي او ناټو ځواکونو د شپې په عملياتو کې څوک وژلي دي ترهګر او که بې ګناه سرتورې او دهغوی بوډا پلار؟

د دقيقو معلوماتو له مخې چې پخپله ناټو ځواکونو هم منلی ده وژل شوې دوه زنانه او د هغوی پلار درې واړه ښوونکي وو، د افغانستان په ټولنه کې ښځې نه ټوپک استعمالولي شي او نه هم راکټ، نه چېرته په سړک کې د بم ايښودلو په مهارت پوهېږي او نه هم نور پوځي او جنګي زده کړی لري. که باالفرض دا هم ومنو چې نورآغا او دهغه دوه پيغلې لوڼې له ترهګرو سره لاس درلود او يا هم پخپله په ترهګريزو چارو کې بوخت وو نو ددې پر ځای چې په نيمه شپه ناټو ځواکونه دهغوی د کور بام ته وخيژي او ډزې ورباندې وکړي دا ورته ډېره اسانه وه چې په رڼا ورځ په ښوونځي او يا هم لاره کې ژوندي ونيسي او پوښتنو ګروېګنو لپاره يې محکمې ته وسپارې د جرم په صورت کې ورته سزا ورکړي او د جرم د نه ثبوت په صورت کې يې خوشې کړي. دا هم کولې شوه چې دهغوی کور تر سهاره محاصره کړي او سهار په رڼا ورځ ورته د تسليمي غږ وکړي.

په افغانستان کې داسې ډېرې پېښې مخکې هم تېرې شوې دي او اوس هم روانې دي چې د پوليس او عسکر په لباس کې غله د خلکو کور ته ننوځي او مال او حال يې غلا کوي، نو ځکه له عسکرو او پوليسو د خلکو اعتماد راپاڅېدلی او د شپې پر مهال چې هر څوک دهغوی په کور واوړي د خپل مال او عزت د ساتلو په خاطر يا ورباندې ډزې کوي او يا هم ورته د کوره دباندې نه ووځي، په کور باندې پر اوړېدونکو کسانو ډزې کول او يا هم دهغوی لپاره له کوټې نه دباندې نه وتل او نه تسليمېدل هر ګز دا معنی نه لري چې هغوی ترهګر دي.

امريکايي او ناټو قوماندانان نه ليوني دي او نه هم کاڼه او ړانده چې د شپې عملياتو له تاوان نه خبر نه وي، دا خبره بالکل ثبوت ته رسېدلې ده چې دشپې په عملياتو کې په سلو کې ۹۵ بې ګناه ملکي وګړي وژل کېږي لکه څنګه چې ګارډين ورځپاڼې هم دا منلې ده چې د ناټو ځواکونو د شپې په عملياتو کې هره شپه اته بې ګناه ملکي وګړي وژل کېږي.

که هره شپه د وژل شويو کسانو شمېره ۸ تنه حساب کړو نو په مياشت کې ۲۴۰ تنه بې ګناه خلک د ناټو د شپې په عملياتو کې خپل قيمتي ژوند له لاسه ورکوي چې کلنی حساب بې شا او خوا درېيو زرو کسانو ته رسېږي، ځرګنده خبره ده چې دا له افغانانو سره دوستي نه بلکې ستره دښمني ده او افغانان کله هم دېته د دوستي نوم نه شي ورکولې او نه يې هم د زغملو توان لري.

پخپله امريکايي چارواکي او پوځي قوماندانان دې په دې خبره غور وکړي چې که چېرته هغه د يولسم سپتمبر په پېښه کې د درېيو زرو کسانو وژل ونه زغملی شوه او دهغوی د قاتلينو په لټه کې پر افغانستان يرغل وکړ نو افغانان چې د تېرو يوولسو کلو راهيسې امريکايي او ناټو ځواکونو په ړندو بمباريو او د شپې د عملياتو په ډزو کې خپل اولادونه او مال حال له لاسه ورکوي دا له افغانانو سره له القاعدې نه زياته ترهګري نه ده !؟

که القاعده د درېيو زرو کسانو د وژلو له کبله د ترهګر په نوم يادېدلې شي نو د زرګونو بې ګناه افغانانو وژونکو ته له ترهګرو پرته بل کوم نوم ورکولې شي؟

که د امريکا نړيوال تجارتي برجونه د الوتکو په ټکرولو سره نړول کېږي او ليدونکي د وېرې او ترهې په محسوسولو ددغې پېښې عاملينو ته ترهګر وايي نو آيا د شپې عملياتو ته چې بهرني ځواکونه د يو چا په کور اوړي ويده خلک وژني، ان چې د ګوارې ماشوم هم په ګوليو غلبيل کوي، په سپيو داړي او له څه ثبوت پرته د ظلم او بربريت بازار پرې ګرموي، شاوخوا اوسېدونکی دهغوی دغه عمل ته د ترهګرۍ پرته بل نوم ورکولې شي !؟ که د ترهګرۍ په خلاف جنګېدونکي د عوېداران پخپله د ترهګرۍ کړنې ترسره کوي او بې ګناه وګړي وژني نو د افغانستان مظلوم وګړي به دا هر څه څنګه په چوپه خوله وزغمي !؟ ترهګري خو هله پای مومي چې د ترهګرۍ په خلاف جنګېدونکي امريکايي او ناټو ځواکونه پخپله د ترهګريزو کړنو څخه لاس واخلي که نه نو د افغانستان د ځورېدلي ولس دا اند ښښنه پر ځای ده چې امريکا افغانستان ته د ترهګرۍ د ختمولو لپاره نه بلکې ترهګرۍ ته د لا ودې او دوام لپاره راغلې تر څو له دې لارې په منځنۍ آسيا کې خپلو هغو اهدافو ته لاس رسی پيدا کړي چې له ترهګرۍ سره د جنګ په بهانه افغانستان ته خپل پوځونه استولي دي.

د اسلامي تاريخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(څلورويشتمه برخه)

س۴۳۹: چا لومړی په غزا کې خلکو ته د توښې جمعه کولو امر وکړ؟

ځ: عسکري وايي: چې لومړنی سړی چې د غزا په وخت يې خلکو ته د توښې جمعه کولو امر وکړ د زياد زوی ربيع حارثي و. دا د خراسان امير و خپل پلار هلته په ۵۱ هجري کال کې مقرر کړی و، دی هلته د پنځوس زره لښکر سره ولاړ، ترکتان او هياطله په قهر شول او په فوهستان نومې ځای کې راټول شول، دی هلته ورغی، خلکو په مړی ور کولو کې دعو طلبي کوله نو دی دا کار مهم وګڼه او خپلو خلکو ته يې د توښې د جمعه کولو امر وکړ، نو هر سړي به يو څه اندازه مال يو باوري شخص ته ور کاوه کله به چې دا شيان يا مال خلاص شو بيا به يې نور جمع کول، بيا يې د ترکانو سره جنګ وکړ او ماته يې ورکړه.

س۴۴۰: د تابعينو نه لومړی څوک و مړ؟

ځ: د عبد الرحمن زوي جلال الدين سيوطي ليکلي چې د تابعينو نه لومړی سړی چې و مړ هغه ابو زيد معمر بن مزيد و چې په ديرشم هجري کال کې په قتل و رسيد.

وړاندوينه: يو علم چې په (رجال حديث) يادېږي، دا د حديثو د راويانو د حالت او د هغوي د روايتونو د قبول او رد نه بحث کوي. د حديثو د راويانو د حالت نه مطلب د راويانو د زيږيدنی، د هغوي مرګ، تاريخ، نومونه، لقبونه، کنيه ګاني، نسبونه، وطنونه، سفرونه او د هغوي د استاذانو او شاګردانو پيژندنه، او همدارنګه جرح (تهمت وينه) او تعديل (صفت کونه) او متفق عليه او مختلف فيه نومونو اوتوپير لرونکي، يو شان او مشابه او ثقه او ضعيفو راويانو او داسې نورو پيژندنه ده.

س۴۴۱: چا لومړی په علم رجال کې خبرې کړې؟

ځ: سيوطي وايي: شعبه لوړی سړی وچې په علم رجال کې يې خبرې کړې دي.

س۴۴۲: کوم لومړی کار و چې عثمان بن عفان رضي الله عنه د خپل خلافت په وخت کې و کړ؟

ځ: د لوړې کار چې عثمان رضي الله عنه د خپل خلافت په دوران کې و کړ هغه خپلو واليانو ته د کار په دوام او د الله نه د ويرې او په نيکۍ باندې امر او د بدۍ نه د منعه کيدو په لور تشويق کړل.

س۴۴۳: څوک به لومړی د جنت د دروازې کړۍ خوځوي؟

ځ: أحمد او ترمذي د انس رضي الله عنه نه روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: زه به لومړی هغه شخص يم چې د جنت د دروازې کړۍ به نيسم او هغه به خوځوم.

س۴۴۴: د قيامت لومړی علامه چې ښکاره کيږي څه به وي؟

ځ: د مسلم، أحمد، ابو داؤد او ابن ماجه روايت دی: پيغمبر عليه السلام فرمايلي دي: لومړی علامه د مغرب (لويديځ) له لوري د لمر راختل دي او د څاښت په وخت د دجال راوتل دي، هره علامه چې د خپل سيال نه مخکې راووته هغه بله به سمدستي ور پسې نږدې وي. اوپه يو بل حديث کې چې طبراني د أبي أمامه نه روايت کړی وايي: چې پيغمبر عليه السلام فرمايلي دي: چې لومړی علامه د لويديځ له خوا د لمر راښتل دي.

س۴۴۵: د قيامت په ورځ به له چا سره لومړی حساب او کتاب کيږي؟

ځ: له ابو هريره رضی الله عنه روايت دی هغه وايي: پيغمبر عليه السلام فرمايلي دي، له هغه چاسره چې د قيامت په ورځ ور سره لومړی حساب کتاب شروع کيږي، دا به څوک وي هغه چې شهيد شوی وي، دی به راوړل شي او په ژوند کې به په ده باندې د الله پاک نعمتونه ده ته ور و ښودل شي او دی به يې و پيژني بيا به د ده نه پوښتنه و شي تا ددې نعمتونو په بدل کې څه کړي دي؟ دی به و وايي: يا الله ما ستا په لار کې جنګ کړی تر دې چې شهيد شوم، الله پاک به ور ته و وايي دروغ دي و ويل، بلکه تا ددې لپاره جنګ کولو چې خلک و وايي دی ډېر زړور او بادر دی، او دا درته وويل شو، بيا الله پاک امر و کړي چې دی اور ته وا چوئ، نو دی به پړ مخ کش کړی شي تردې چې په اور کې واچول شي.

بل سړی هغه دی چې علم يې زده کړی وي او نورو خلکو ته يې ښودلی وي، هغه به راوړل شي او په ژوند کې به په ده باندې د الله پاک نعمتونه ده ته ور وښودل شي، او دې به يې هم و پيژني، بيا به الله پاک ورته وفرمايي ددې نعمتونو په بدل کې تا څه کړي؟ دې به ووايي: يا الله ما علم زده کړی و اوخلکو ته مې ښودلی و اوستا لپاره مې دقرآن تلاوت کړی و، الله پاک به ورته ووايي دروغ دې وويل. تا ددې لپاره علم زده کړي و چې خلک ووايي چې دې عالم دی او دا وويل شو او دقرآن تلاوت دې په دې خاطر کړی و چې وويل شي چې دې قاري دی او داهم درته وويل شو. بيا به الله پاک امر وکړي چې دی په اور کې واچوئ، نو دې به پړمخ کش کړی شي تردې چې په اور کې واچول شي.

بل هغه سړی دی چې الله پاک ور باندې د پراخې پرزونه کړی او هر ډول سرمايه او دارايي يې ور کړي وي، دی به راوړل شي او په ژوند کې به پر ده باندې د الله پاک نعمتونه ورته ور و ښودل شي او دی به يې هم و پيژني، بيا به ورته الله پاک و فرمايي: تا ددې نعمتونو په بدل کې څه کړي دي؟ دی به و وايي يا الله ! ما په هر هغه ځای کې چې تا خوښ ګڼل چې صدقه و شي، صدقه کړې، الله پاک به ورته و فرمايي: دروغ دې وويل، بلکې تا ددې لپاره دا کار کولو چې خلک و وايي چې دی سخي دی، او دا درته وويل شو. بيا الله پاک امر و کړي چې دی اور ته وا چوئ، نو دی به پړ مخ کش کړی شي تر دې چې په اور کې واچول شي. (مسلم، احمد او نسائي روايت کړی. جامع صغير چې الباني تاليف کړی هم و ګوره).

(نور بيا)

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

امریکا بالاخره پر حقاني شبکې خپلې مستقیمې حملې پیل کړې

واشنګټن پوسټ:
ورځپاڼه په روانه اوونۍ کې د پاکستان په قبایلي سیمو شمالي او جنوبي وزیرستانونو کې د بې پیلوټه امریکایي الوتکو دوو حملو ته اشاره کوي، چې په دغو حملو کې دحقاني شبکې څومهم کسان ووژل شول.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼه زیاتوي، دوې اوونۍ مخکې د امریکا د ملي امنیت په شورا کې پر میرانشاه د برید پرېکړه د امریکا د ولسمشر بارک اوباما له لوري وشوه او دا څرګندوي چې امریکا به نوره د افراطي وسلوالو د پناه ځایونو په وړاندې غلې نه پاتېږي، چې له دغو ځایونو ګواښونه په افغانستان کې پر دېره امریکایي ځواکونو دوام ومومي.

د ورځپاڼې په باور، مهمه مسئله دا ده چې د حقاني شبکې پر اهدافو د بریدونو له زیاتوالي سره جوخت، امریکایي مشران وایي چې دغې شبکې ته یې د خبرو اترو دروازه پرانیستې ده.

ورځپاڼه په دې برخه کې د حقاني شبکې د مشر له ورور ابراهیم حقاني سره د امریکایي چارواکو کتنې ته اشاره کوي، چې موده مخکې په کوم عربي هېواد کې شوې ده. واشنګټن پوسټ لیکي، دغه کتنه د پاکستان د پوځي استخباراتو د ادارې یا ISIد مشر احمد شجاع پاشا په منځګړیتوب شوې ده.

د مقالې په دوام راغلي، هره ورځ له حقاني شبکې سره د پاکستان د پوځي کړیو د اړیکو په باب اورو، ورځپاڼه وایي اوس دغه وخت راغلی چې پاکستان خپل دریځ بدل او د امریکا له غوښتنو سره دې یې هماهنګ کړي چې د دې شبکې د سخت دریځو وسلوالو د ځپلو په لار کې نورې بریاوې هم ترلاسه شي.

نیویارک ټایمز:
د امریکا چاپ بلې ورځپاڼې نیویارک ټایمز بیا په خپله وروستۍ ګڼه کې د پاکستان اړوند مسئله څېړلې او لیکي، چې امریکا باید د پاکستان په وړاندې خپل سیاست په عمومي ډول بدل کړي او داسې اقدامات وکړي، چې د دغه هېواد پوځ، د تقویه کولو پرځای مهار کړي.

د ورځپاڼې په باور په دې برخه کې تر ټولو غوره لار له پاکستان سره د تجارت پراختیا او په سوداګرۍ کې اسانتیاوې برابرول دي، ځکه که د پخوا په څېر له پاکستان سره مرسته کېږي، د پاکستان مطبوعات چې د پوځي استخباراتو د ادارې ISIله لوري ځارل کېږي، بیا هم تبلیغات پیلوي که چې ګواکې دا کار د توطیې دوام دی او امریکا په حقیقت کې غواړي پاکستان منزوي کړي.

نیویارک ټایمز د لیکنې په دوام زیاتوي، که څه هم د هند او پاکستان ترمنځ د ستراتیژیکو مذاکرو پیل اهمیت لري، ورسره به د پاکستان د پوځ اندېښنه هم په پام کې وي، ځکه د پاکستان پوځ تل له هند سره د دښمنۍ په باب خبرې کوي.

ورځپاڼه لیکي، امریکا باید دغسې مذاکرې تشویق کړي او په ورته وخت کې د پاکستان له حکومت سره د تروریستانو په باب د استخباراتي معلوماتو په رسولو کې مرسته وکړي.

نیویارک ټایمز ورځپاڼه په دې باور ده چې دغسې اقدامات او د هند په هڅونې سره چې د کشمیر د مسئلې په باب څه نرم دریځ غوره کړي، د پاکستان د عوامو پر ذهن مثبت اغېز کوي.

په ځینو وکیلانو او قوماندانانو ...

د بابا په خبره، د ننګرهار سیمه ییز چارواکي د یادو وسلوالو د فعالیتونو د مخنیوي وس نه لري او په دې اړه باید په لوړه کچه کوټلي ګامونه واخیستل شي.

هغه په دې اړه، چې دغه ډلې او وسلوال څوک او پر چا پورې اړوند دي، وویل، له دې امله چې د دغه ډلې ټول پېژني، نو دی نه غواړي په اړه یې څه ووایي.

په ولسي جرګه کې د کوچیانو استازی او د ننګرهار اوسېدونکی شېرعلي احمدزی بیا وايي، دغه ډلې، چې د وسلوالو کسانو شمېر یې شاوخوا لسو زرو ته رسېږي، په ځینو پخوانیو جهادي قوماندانانو پورې اړه لري.

ده هم د یادو جهادي قوماندانانو نومونه په ډاګه نه کړل، خو ویې ویل، چې که د دغو کسانو مخه ونه نیول شي، ډېر ژر به د ننګرهار دولتي ځمکې غصب او ټولې ولایتي اداره به تر خپل اغېز لاندې راولي.

دی وایي، چې د ننګرهار چارواکي د دغو وسلوالو ډلو پر وړاندې د درېدو وس نه لري.

په ولسي جرګه کې د ننګرهار استازې لیلما ولي حکمي وایي، چې په دغه ولایت کې له تېرو څو کلونو راپه دېخوا دغه وسلوالې ډلې شتون لري.

حکمي وایي، چې په ملي شورا کې د ننګرهار استازو له ولسمشر حامد کرزي سره په دې اړه خبرې کړې او هغه ورته ویلي، چې یو کمېسیون به جوړ کړي، تر څو په دې برخه کې پلټنې وکړي.

د ننګرهار د والي ویاند احمد ضیاء عبدالزي که څه هم د کومې ځانګړې ډلې یا شخص نوم وانه خیست، خو دا یې ومنله، چې یو شمېر وسلوالو په ښار کې امنیت له ګواښ سره مخ کړی دی.

هغه پژواک اژانس ته وویل، چې دغه وسلوال د کورنیو چارو وزارت د وسلې ګرځولو اجازه نامې هم لري، خو زیاته یې کړه، چې والي ګل آغا شېرزي دغه کار جدي نیولی دی.

د عبدالزي په وینا، والي څو ورځې مخکې د ولایت په امنیتي غونډه کې هم پر دغې موضوع خبرې کړې او سپارښتنه یې کړې، له هغو وسلوالو سره، چې خلکو ته ستونزې جوړوي، باید جدي چلند وشي.

امریکا تجهیزات نظامی جدید ...

کابل نشان بدهد گفت: نیرو های اردوی ملی با استفاده از این وسایل و تجهیزات این توانایی را پیدا خواهند کرد تا به تهدیدات موجود پاسخ بدهند.

وی گفت: "تاکید می کنم که سلاح، وسایط و تجهیزات که در اختیار اردوی ملی فعلاً قرار دارد و در آینده قرار خواهد گرفت، یا برای یک جنگ غیر متعارفی غیر منظم یعنی تهدید فعلی که افغانستان با آن مواجه است موثر خواهد بود و در برابر یک جنگ منظم، تجاوز خارجی ما به سلاح های ثقیل تر و در بخش هوایی به سلاح های زرهی ثقیل تر احتیاج خواهد داشتیم."

هلیکوپتر ها، تانک ها، وسایط زرهی و غیر زرهی، انواع مختلف اسلحه، وسایل خنثی سازی ماین و سایر امکانات صحی شامل کمک تازه ایالات متحده امریکا به اردوی ملی افغانستان است.

وزیر دفاع افغانستان گفت: که این تجهیزات و وسایل نظامی میلیارد ها دالر ارزش دارد.

او تاکید کرد که کمک با اردوی ملی به خصوص در بخش هوایی باید بیشتر شود.

به گفته آقای وردک، برای تامین امنیت و ثبات در افغانستان نیاز است تا نیرو های امنیتی این کشور به سطح منطقه تجهیز و تقویت گردند.

وی افزود: "یگانه راه تامین امنیت درازمدت افغانستان توانمند ساختن خود افغان هاست.

به هیچ بدیل دیگر به جز خود کفایی و کسب قدرت دفاع مستقل وجود ندارد.

یک افغانستان که از نگاه نظامی قوی و نیرومند باشد نه تنها که امنیت داخلی افغانستان را تامین خواهد کرد، بلکه به صلح و امنیت منطقوی ممد خواهد بود."

ایالات متحدهء امریکا در حالی کمک های تازه نظامی را در اختیار اردوی ملی افغانستان قرار می دهد که انتقاد هایی از جامعهء بین المللی موجود است که در زمینه تجهیز و تقویت نیرو های افغان به خصوص قوای هوایی افغانستان توجه لازم نکرده است.

این مساعدت های نظامی هم چنان در زمانی صورت می گیرد که مسوولیت های امنیتی ۷ منطقه که شامل برخی ولایات و شهر ها می شود به نیرو های افغان سپرده شده است.

انتظار می رود در آیندهء نزدیک مسوولیت های امنیتی شماری از مناطق دیگر نیز به عهده نیرو های امنیتی این کشور گذاشته شود.

دپاکستان له پوځي اډو پر ...

افغان چارواکي وایي چې د پاکستان له لوري په تېرو څلورو میاشتو کې تر زرو زیات توغندي پر سرحدي سیمو لګېدلي چې په نتیجه کې یې نژدې پنځوس تنه وژل شوي یا ټپیان شوي او سلګونه تنه نور مجبوره شوي چې کور اور پرېږدي او خوندي سیمو ته ولېږدي.

د پېنتاګون ویاند ښاغلي لیټل ونه ویل چې د پاکستان بریدونه په ایبټ اباد کې د اسامه پر کور د امریکا له حملې سره تړاو لري او نه یې د پاکستان د حملو د څرنګوالي په باب جزییات څرګند کړل.

پرون نیویارک ټایمز ورځپاڼې د امریکا د پوځي چارواکو په قول په یوه راپور کې ولیکل: څرګنده نه ده چې د پاکستان له خوا پر افغانستان د توغندویي حملو زیاتېدا، د سخت دریځو د پیاوړتیا نتیجه ده که د پاکستان د پوځ له لوري غچ اخیستونکی اقدام او یا دا چې دواړه رول لري.

نیویارک ټایمز ورځپاڼې د امریکا د پوځي چارواکو له خولې همدارنګ لیکلي: په ایبټ اباد کې د مې په دوهمه نېټه د بن لادن پر پټنځای د امریکایي ځواکونو د برید له وخته د افغانستان په پکتیکا ولایت کې د پولې له هغې غاړې د امریکا پر اډې لږترلږه ۱۰۲ حملې شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې دا ډول حملې په ټول تېر کال کې ۱۳ ځلې شوې وې.

نیویارک ټایمز وایي چې د پاکستان د پوځ سرحدي مقامات د توغندو له حملو بې خبري څرګندوي، حال دا چې دا حملې د پاکستان د پوځ د مرکزونو یا د دغه هېواد د ملېشه ځواک د اډو او پوستو له څنګه کېږي.

د ورځپاڼې په وینا د دغو حملو پېچلتیا او انسجام ته په پام سره ځینې امریکایي چارواکي پوره شک لري چې په دې حملو کې د پاکستان پوځ یا استخباراتي اداره (آی ایس آی) لاس او رول لري.

آیساف بخاطر تامین ثبات دایمی ...

سخنگوی اردوی پاکستان بروز (دوشنبه) به آژانس خبری رویترز گفت: با وجود تقاضای مکرر اسلام آباد، نیروهای مستقر در افغانستان و حکومت آن کشور در مبارزه بر ضد ملا فضل الله و گروهش کندی کرده اند.

به گفته اطهر عباس سخنگوی اردوی پاکستان، این موضوع میتواند تنشهای موجود بین افغانستان و پاکستان را افزایش دهد.

پاکستان می گوید: در حملات گروه فضل الله حد اقل صد نیروی امنیتی پاکستان کشته شده اند و این مساله اردوی پاکستان را که مشغول مبارزه بر ضد افراط گرایان می باشد، سخت ناراحت ساخته است.

سخنگوی ریاست امنیت ملی افغانستان لطف الله مشعل در مورد حضور ملا فضل الله در خاک افغانستان ابراز بی خبری کرده است.

مشعل به رادیو آزادی گفت: وی در مورد محل بود وباش ملا فضل الله معلومات ندارد ولی وی به آژانس خبری رویترز گفته است: گروه های تروریستی اغلباً از پاکستان وارد افغانستان شده و حملات را انجام می دهند.

د ګاونډیانو د بریدونو په اړه د ...

د سیاسي چارو کارپوه استاد حبیب الله رفیع وایي، چې حامد کرزي د خپل متذبذب دریځ له امله دغه څرګندوني کړې دي.

هغه پژواک خبري اژانس ته وویل، چې کرزي د پاکستان او ایران د خوشحالولو لپاره هغه واقعیتونه رد کړل، چې ټوله نړۍ یې شاهده ده.

استاد رفیع زیاته کړه: "هلته زموږ پر پولو تېری کېږي، افغانان وژل کېږي، ټپیان کېږي او بې کوره کېږي او ولسمشر مو دا هر څه د رسنیو شایعات او مبالغه بولي."

د هغه په وینا، کرزي په لومړي ورځ سوګند پورته کړی، چې هغه به د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا، ملي ارزښتونو او حیثیت دفاع کوي؛ خو اوس یې خپل سوګند مات کړ.

د ژورنالیستانو د ملي اتحادیې مشر عبدالحمید مبارز پژواک ته وویل، چې دا یو واقعیت دی چې پر افغانستان د پاکستان له خاورې بریدونه شوي او دا هېڅکله د رسنیو مبالغه نه ده.

نوموړي زیاته کړه، چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت دوه ځلې په کابل کې د پاکستان سفیر غوښتی او د دغو بریدونو په اړه یې ترې د ځواب غوښتنه کړې ده.

مبارز زیاته کړه: "که د کرزي خبرو ته سړی ځیر شي، له یوې خوا وایي چې دغه ډول تبلیغات باید رسنۍ ونه کړي او له بلې خوا بیا په اشارې سره وایي چې داسې یو څه شته."

د هغه په وینا، ولسمشر کرزی غواړي چې له پاکستان سره یې له دې نورې اړیکې خرابې نه شي، ځکه چې اوس د امریکا متحده ایالاتو هم له پاکستان سره په خپلو اړیکو کې نرمښت راوستی دی.

نوموړي وویل، چې دغه ډول سیاستوال په ځینو نازکو حالاتو کې یو څه مجبوریتونه لري، چې له امله یې داسې دریځ نیسي.

حمید مبارز د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل، چې افغاني رسنیو تراوسه هېڅ شایعات او مبالغه نه ده کړې او تل یې له خپلو ملي ګټو څخه دفاع کړې ده.

هغه زیاته کړه: "موږ د ولسمشر کرزي خبرو ته احترام لرو، خو جدي یې نه نیسو."

ولسمشر کرزي د پاکستان له خوا ترسره شوي بریدونه په داسې حال کې مبالغه بللي، چې د کونړ امنیه قوماندان مل پاسوال عوض محمد نذیري نن پژواک خبري اژانس سره په یوه مرکه کې وویل، چې په تېرو شپږو میاشتو کې د پاکستانیو ځواکونو له خوا د راتوغول شویو ۱۵۹۱ مرمیو له امله ۲۷ کسان وژل شوي، ۴۲ نور ټپیان، اووه کورونه او دوه جوماتونه ړنګ شوي دي.

د هغه په وینا، د پاکستاني پوځ له لوري د افغانستان پر حریم د کونړ ولایت پر سرحدي ولسوالیو په دې بریدونو کې د مرګ ژوبلې ترڅنګ، خلکو ته درانه مالي زیانونه هم اوښتي او د خلکو له سلو زیات ځاروي یې هم له منځه وړي دي.

همداراز د کونړ د ناړۍ ولسوال ګل زمان هم پژواک ته وویل، چې د پاکستان د پوځ له لوري د ناړۍ ولسوالۍ پر سرحدي سیمو تراوسه ۸۲ توغندي راتوغول شوي، چې په کې د یوه کور شپږ تنه وژل شوي او ۹ نور ټپیان دي.

دغه راز د بهرنیو چار وزارت د دې بریدونو په غبرګون کې په کابل کې د پاکستان سفیر احضار کړی و او د ملي شورا دواړو جرګو هم پرې خپل کلک غبرګون ښودلی وو.

خو د ولسمشر حامد کرزي د ویاند مرستیال سیامک هروي پژواک اژانس ته وویل، چې ولسمشر تېره ورځ د پاکستان له لوري توغندیز بریدونه نه دي رد کړي؛ یوازې یې د یو شمېر رسنیو تبلیغاتي خبرونه یاد کړل.

هروي زیاته کړه: "د دولتي چارواکو له خولې چې کوم خبرونه رسنیو ته ورکړل شوي، هغه سم دي، خو کله کله په رسنیو کې شایعات خپرېږي، چې هغه موږ اوس هم ردوو."

اتحادیهء اروپا برای تقویت ...

وی گفت: "من از توجهء نیک اتحادیهء اروپا در راستای اعمار Staff Collegeو یک مرکز پولیس در بامیان که همزمان کار آن شروع می شود، تشکر می کنم.

این مراکز در ماه جون سال ۲۰۱۲ به جانب افغانی تسلیم داده می شود که این گام بهتر و خوب در جهت مسلکی شدن پولیس ملی افغانستان خواهد بود."

اتحادیهء اروپا نه تنها در بخش آموزش پولیس ملی افغانستان با این کشور کمک کرده است، بلکه به اساس گزارش ها، کشور های عضو این اتحادیه در سال های گذشته، در بخش بازسازی افغانستان ملیارد ها یورو را به مصرف رسانده اند.

حکومت افغانستان دراین روزها درتلاش است تابه منظور گسترش روابط میان افغانستان و اتحادیهء اروپا توافقنامهء همکاری های درازمدت را با این اتحادیه به امضاء برساند.

به گفتهء مقام های اتحادیه اروپا، گفتگو های ابتدایی در این مورد آغاز شده است.

مشخص نیست این توافقنامه که شامل همکاری های سیاسی، اقتصادی و تجاری افغانستان و اتحادیهء اروپا خواهد بود، چه زمانی به امضا می رسد.

دغه رنګ موتاسې غوره امت ګرځولې یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
اونیزه شهادت

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۷۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com